<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**د اوسنیو سیاستوالو کړنې دیموکراتیک فاسد نظام ته په بشپړ ډول ورته دي**

**د تغیر لپاره د سمې سیاسي تګلارې په غوره کولو سره د نبوت پر منهج خلافت راتلی شي**




**ترجمه**

پاکستاني ځوانان او د لیک لوست خاوندان، چې په ۲۰۱۰ م کې یې له هغو سیاسي ډلو څخه ملاتړ اعلان کړ، چې بدلون به راولي، نن ورځ  په هغو کې د فرصت طلبو، د واک تږیو او ځان غوښتونکو سیاستوالو پر شتون خپه او خواشیني دي. پاکستاني زلمیان غواړي، چې په دغه هیواد کې د اسلام د بشپړه پلي کېدو لپاره د پلرونو هیلې او خوبونه په حقیقت بدل کړي. همداراز دغه ډلې د بدلون راوستونکو په نامه تل د ځوانانانو د هڅونې په موخه د مدینې دولت بېلګې وړاندې کوي. خو د پاکستان اویا کلن سیاسي تاریخ او په ځانګړې توګه د ورستیو اتو کلونو له سیاسي تاریخ څخه جوتېږي، چې ډیموکراسي یو فاسد نظام دی او موږ به د یو فاسد نظام پر مټ و نه شو کولای چې ریښتنی بدلون راولو، بلکې تل به د حریصو سیاستوالو له لورې غولول کېږو.

حزب التحریر ولایه پاکستان له پاکستانې ځوانانو څخه غواړي، چې خواشیني نه شي او غور وکړي چې ولې د اوسني فاسد ډیموکراټیک نظام پر ځای ریښتني بدلون ته لاره نه هوارېږي؟ ولې په یو فاسد نظام کې تل واک له مفسدینو سره وي؟ ولې د واک لاس ته راوړلو لپاره باید د فاسدو خلکو ملګرتیا وشي؟ دغو ټولو پوښتنو ته ځواب ډېر ساده دی. هغه دا چې، دیموکراسي یو غیر

اسلامي نظام دی، د الله سبحانه تعالی پر ځای انسانان پکې قانون جوړوي او له دې امله د الله سبحانه تعالی نظام له پلي کېدو څخه پاتېږي. همدا ده، چې د ديموکراسۍ له لارې د هر راز بدلون راوستنې هڅې له ناکامۍ او ماتې سره مخ کېږي او دا لړۍ همداسې دوام لري. بيا نو د رښتني بدلون راوستولو لپاره سمه تګلاره کومه ده؟

موږ د بدلون راوستلو لپاره بايد د رسول الله صلی الله وعليه وسلم تګلاره خپله کړو. د بدلون لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم طريقه دا ده، چې د يو سياسي ګوند له لارې فکري او سياسي مبارزه تر سره شي او بيا د واک له خاوندانو څخه نصرت (مادي مرسته) تر لاسه کړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم يوازې هغه اشخاص په خپله ډلې کې منل، چا چې په بشپړه توګه اسلام ته ژمنتيا درلوده. رسول الله صلی الله عليه وسلم په پوره پاملرنې سره د خپلو صحابه‌و ښوونه او روزنه وکړه او له هر يوه يې بشپړ اسلامي شخصيت جوړ کړ. بيا د خپلو صحابه‌وو په مرسته د سياسي مبارزې پر مټ د کفري نظامونو او افکارو پر وړاندې په کلکه ودرېد، اسلام يې د کوم څيز له پټولو پرته د الله سبحانه تعالی له لورې ټولنې ته د يو غوره بديل په توګه وړاندې کړ، او د نظام لپاره يې د واک په خاوندانو او عامو خلکو کې عامه رايه را منځته کړه. رسول الله صلی الله عليه وسلم د وخت له حکامو سره هيڅ راز معاملې ته غاړه کښې نه ښوده. رسول الله صلی الله عليه وسلم د نصرت (مادي مرستې) او دولت د قايمولو لپاره عربو قبيلو ته ورغی او په خپله موخه کې بريالی شو، چې د مدينې دوو قبيلو رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل مشر په توګه ومنلو.

نو دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تګلارې سره سم د بدلون راوستلو طريقه ده؛ د خلافت راوستلو لپاره له يوې سياسي ډلې سره يو ځای شئ، سياسي او فکري مبارزه وکړئ او د پاکستان له پوځ څخه د خلافت راوستلو لپاره د نصرت غوښتنه وکړئ.

حزب التحرير ولايه پاکستان له ځوانانو څخه غواړي، چې مايوسه نه شي او له دې ترخې تجربې څخه زده کړې. د الله سبحانه تعالی له ارادې سره سم د نبوت پر منهج د خلافت د بيا راتګ وخت لرې نه دی او دا هغه ريښتينی بدلون دی، چې موږ ټول يې په لټه کې يو. الله سبحانه تعالی فرمايي:

**﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾**

[ ال عمران:۱۳۹]

*ژباړه: مه بې زړه کېږئ او مه اندېښمن کېږئ، همدا تاسو برلاسي ياست، که مومنان يئ*

له دې امله، موږ د پاکستان ځوانانو او عامو خلکو ته بلنه ورکوو، چې له حزب التحرير سره په دې مبارزه کې برخه واخلئ او په پاکستان کې د ريښتيني بدلون راوستلو لپاره مرسته وکړئ.

**حزب التحرير ولايه پاکستان**

**No: PR18022**

**۱۴۳۹هـق، د رجب ٦ مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۲۴ مه**